PROPERTY OF ACKU

DAILY ارادہ

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۱۱۱۹

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ . ش

یوولسم کال – دویمه دوره، ۱۱۱۹ مه گڼه، پر له پسې ۲۱۹۳ گڼه د ۱۳۹۰ ل.د وري ۱۵ مه – د سې شنبې ورځ، د ۱۴۳۲ هـ ق شوال المکرم ۸ مه د ۲۰۱۱ د سپتمبر ۶ مه

معترضو نوماندانو د لارو او واټونو د بندولو ګوابس وکړ

په داسې حال کې، چې معترضه کاندیدان د انتخاباتو د کمېسیون له پرېکړې سره د خپل مخالفت په لړ کې د واټونو او لارو د بندولو ګوابس کوي، خو عام خلک بیا د دوی له دې کار سره مخالفت څرګندوي.

معترض کاندیدان، چې د دوشنبې پر ورځ په یوه غونډه کې راټول شوي وو، یو ځلې بیا خبرداری ورکړ، که د ځانګړې محکمې پرېکړه عملي نه شي، نو دوی به بیا واټونو ته راوځي.

خو ځینې عام خلک بیا وایي، چې د معترضو **۳مـخ**

دور تازۀ مذاکرات پیمان استراتیژیک با امریکا، با کدام محوریت؟

انتظار می رود، طی چند روز آینده دور تازه یی گفتگوها بین مقام های افغانی و امریکایی روی امضای سند استراتیژیک بین واشنگتن و کابل در امریکا برگزار شود. این در حالی است که بازهم این مسأله روشن نیست که در این پیمان سخن نخست از کی خواهد و کدام طرف دست بالایی خواهد داشت؟ به گزارش رسانه ها قرار است، به زودی هیأتی از مقام های افغان برای انجام دور تازۀ گفتگوها دربارۀ پیمان استراتیژیک امریکا به واشنگتن سفر کنند.

گفته می شود که **ص۳**

په کابل کې لسګونه ناقانونه او غیرمعیاري ښارګوټي چا جوړ کړي؟

د کابل ښاروالۍ تایید کړه، چې په تېرو څو کلونو کې لسګونه ښارګوټي له قانوني جواز پرته د دې ولایت په ېېلابېلو برخو کې په غیر معیاري ډول جوړ شوي دي.

د کابل ښاروال په خبره دا مهال په کابل ولایت کې یوازې اته ښارګوټي قانوني دي او له ښاروالۍ څخه یې جوازونه ترلاسه کړي دي.

کابل ښاروال انجنیر محمد یونس نوانديش د دوشنبې پر ورځ د مشرانو جرګې د مواصلاتو او مخابراتو په کمېسیون کې وویل، چې له دې وروسته به هرو مرو د خپلسرو ښارګوټو اودانیو د جوړولو مخه ونیول شي: "کابل ښاروالي هېڅکله دې ډول خوځښتونوته نه تسلیمېږي، د خپلو پروګرامونو د عملي کولو لپاره ټینګ هوډ لرو.

د ملي شورا، کورنیو چارو وزارت او نورو امنیتي ځواکونو له همکارۍ پرته به مور ونه شو کولای چې خپل پروګرامونه تطبیق کړو، له نیکه مرغه **۳مـخ**

د لوی او بښونکي خدای ﷻ په نامه

سرمقاله

راهکار ناکام مبارزه با مواد مخدر!

روز گذشته شهر کابل شاهد نشست چهارجانبه بین نماینده گان افغانستان، تاجکستان، روسیه و پاکستان در امر تسریع تلاش ها در امر جلوگیری از کشت، تولید و قاچاق مواد مخدر در افغانستان بود. کشت، قاچاق و پروسس مواد مخدر در افغانستان یکی از چالش های جدی جامعهٔ جهانی، کشورهای همسایه و خود افغانستان است؛ افغانستان کشوری است که در تولید و کشت مواد مخدر در جهان مقام نخست را دارد؛ اما بهرهٔ اصلی و بیشتر آن نصیب مافیای جهانی یی می شود که در دستگاه های داخلی و خارجی دخیل در قضیهٔ افغانستان ریشه دوانده است. سخنان چند سال پیش علی احمد جلالی وزیرداخلهٔ اسبق ادارهٔ کرزی و نیز، اظهارات مقام های مربوط دولت در این راستا، همه دال بر این گفتهٔ ماست. باید گفت، افغان ها از ناحیهٔ کشت، تولید و قاچاق مواد مخدر سود ناچیزی را نصیب می شوند؛ منفعت اصلی و هنگفتی از این رهگذر، نصیب مافیای بین المللی یی می شود که در ساختارهای دولتی کشورهای همسایه و قدرت های بزرگی که در مورد افغانستان سخن اول و آخر از آن آنهاست، فعال می باشند. گزارش هایی وجود دارد که مواد مخدر افغانستان به آسانی در تبانی با مافیای بین المللی از طریق تاجکستان، پاکستان و ایران و میدان های هوایی ملکی و نظامی و بنادر افغانستان به سایر کشورهای جهان قاچاق می شود. اما در طول ده سال گذشته با انبوهی تلاش هایی که در این راستا صورت گرفت و انبارهایی از دالرهایی که در رابطه به مصرف رسید، هیچ کاهشی نه در امر کشت و نه هم قاچاق آن به عمل آمد. افغانستان ده سال پیش هم از کشورهای اول تولید کنندهٔ مواد مخدر در جهان بود و امروز بعد از گذشت ده سال و تلاش های به اصطلاح عظیم جامعهٔ جهانی و دولت افغانستان، همان جایگاه خود را محفوظ داشته است. در این مدت، ده ها کنفرانس و نشست در سطح منطقه و جهانی در این راستا صورت گرفت؛ در داخل کشور وزارتی به این نام ساخته شد و کمیسیون هایی به فعالیت آغاز کرد و سرمایه هایی خاک و خاکستر شد، محاکم و محابسی ساخته شد، اما فرجام این همه را همه می دانند که چه است؟ اینکه چرا در طول این ده سال، با این همه تلاش ها و مصرف دالرها جلو کشت و قاچاق مواد مخدر در افغانستان گرفته نشد، این مسأله نیز به همه مشهود است؛ تمام کارکردها و تلاش هایی که در این راستا صورت گرفته، صرف سمبولیک و نمایشی بوده، تنها سودجویی های سیاسی و منافع شخصی از آن مطمح نظر بوده است و بس. در این مدت، هیچ کس در این راستا گام راستین و واقعی یی نبرداشته است.

بنابراین، گفته می توانیم که نشست چهارجانبه دیروزی نیز، بر پایهٔ محاسبات و معادلات سیاسی منطقه یی می چرخد که بیشتر جنبهٔ سمبولیک دارد، تا یک راهکار کارآمد عملی. باور بر این است، تا گام های اساسی و جدی جهت شناسایی و نابودی مافیای فعال این پدیدهٔ شوم که در هسته های بالای قدرت کشورهای منطقه و افغانستان فعال می باشند و حمایت گستردهٔ رده های اول و دوم دولتی را نیز با خود دارند، برداشته نشود و روابط تنگاتنگ کاخ نشینان با آنها قطع نشود و در فرجام در این راستا، تلاش ها از بالقوه به بالفعل تغییر جهت ندهد، نمی توان تضمین کرد، با چنین راهکارهای سمبولیک و شعارگونه تغییر مثبت، محسوس و مشهودی در این مورد به وجود آورد.

نشه يي توکي په افغانستان کې يوه بله معما!

نسیم بریال

نشه يي توکي په افغانستان کې يوه بله هغه معما ده، چې هېڅ حل نه لري او لا تر اوسه پورې ګونګه او پر ځای پاتې ده. له ځو لسيزو راهيسې په افغانستان کې د نشه يي توکو پر موضوع خبرې کېږي او ويل کېږي چې افغانستان د نړۍ د هغو هېوادونو په لومړۍ ليکه کې راځي، چې نشه يي توکي توليدوي. که پخوا هم په افغانستان کې نشه يي توکي کرل کېدل او توليد ېدل، خو د طالبانو دامارت پرمهال يې کچه ښکې راتيټه اوان ويلی شو، چې ښکې يې کرکېله او توليد له منځه لاړ، خو کله چې د کرزي واکمني پيل شوه او بهر نيانو په افغانستان کې حضور وموند، نو د نشه يي توکو په کرکېله او توليد کې خورا زياتوالی راغی، نه يوازې زياتوالی په کې راغی، بلکې دې هېواد ته ښکې د نشه يي توکو نړيوالې مافيا هم لاسونه راوږده کړل. که څه هم په دې برخه کې دولت يو وزارت هم جوړ کړ او دې وزارت هم سراسري هڅې وکړې او يا يې کوي، خو په عامه توګه د دوی ټولې هڅې هسې يو تبليغاتي رنګ لري او د نشه يي توکو په کرکېله، قاچاق او توليد باندې په هېڅ ډول ژور اغېز نه لري او نه يې هم لرلی دي.

په ټوليزه توګه هر نشه کوونکی ځيز او هر هغه څه چې د انسان پر حواسو اغېز وکړي، نشه يي توکي بلل کېږي. دا مهمه نه ده، چې هغه دې يوازې کوکنار او له کوکنارو څخه پيدا کېدونکي توکي له هيروين او تریاک وي، بلکې په دې کټګوری کې ډېر نور ځيزونه هم شته، چې انسان نشه کوي او له سده يې باسي. خو په له بده مرغه په افغانستان کې يوازې همدا يو ځيز چې هغه کوکنار دي، د ډېرې پاملرنې وړ دي! او هره ورځ په لوېديځو او د هېواد په کورنيو رسنيو کې وربانديې بحثونه روان وي او لامل يې هم دادی، چې دا ځيز نړيوال ارزښت لري او د نشه يي توکو نړيواله مافيا په کې پراخ لاس لري. که د حقيقت له زاويې ځير شو، نو ويلای شو چې تر ډېره بريده ددغې ناوړې پديدې پر وړاندې نه يوازې مبارزه نه کېږي، بلکې پخپله دې ته زمينه مساعدېږي، چې خلک د کوکنار کر ته مخه کړي، ځکه په افغانستان کې له ډېر پخوا نه د دې ناوړې پديدې پر وړاندې مبارزه کېږي، خو برعکس د دې پر ځای چې کوکنار کم او له منځه لاړ شي، نور يې هم په مقدار کې زياتوالی راځي، سره له دې چې په افغانستان کې له دغې پديدې سره د مبارزې په لار کې يو بشپړ وزارت هم فعاليت کوي. مخکې مو هم يادونه وکړه، چې دغه وزارت په ظاهره ډېرې چيغې وهلي او د کوکنار د مبارزې په لار کې يې ځينې ګامونه پورته کړي، خو په حقيقت کې دوی يوازې تبليغاتي مبارزه کړې نه حقيقي، ځکه که يو وزارت هر ډول اجرايوي واک ولري او بيا هم د هغه وزارت د ناوړې پديدو په له منځه وړلو کې پاتې راځي، داد پوښتنې وړ خبره ده. له دې ټولو داسې ښکاري چې په اصل کې د دې پديدې تر شا يو شمېر کورنۍ او نړيوالې مافيايي کړۍ شته، چې د کوکنارو کرته زمينه برابروي او کرکېلې او توليد ته يې خلک هڅوي او له دې نه دوی ته ډېرې لويې لويې ګټې لاسته ورځي او په ټوله نړۍ کې يې د قاچاق کاروبار روان کړی دی. د نشه يي توکو مافيايي کړۍ، تل هڅه کوي، چې کروندګر دې ته اړ کړي، چې نشه يي توکي وکري. په دې توګه ويلای شو، اوسمهال په افغانستان کې ورځ په ورځ د دغو توکو په توليد او کرکې زياتوالی راځي او همدا زياتوالی د دې لامل هم شوی چې زمور په لکونو لکونو هېوادوال اوس پر نشواخته دي او دژوند حالت يې د هرې ورځې په تېر بدو د خربوالي پلوځي او پر ټولنه يې ډېرې ناوړې اغېزې اچولې دي. که څه هم افغان دولت په وار وار منلې، چې يو شمېر لوړپوړي دولتي او نا دولتي کسان هم د نشه يي توکو په کاروبار او قاچاق کې لاس لري، خو تر اوسه نه چا ونيول او نه هم چا ورته څه ويلي دي، بلکې دولت نه يوازې د دا ډول خلکو په افشا کولو او نيولو کې ګام نه دی پورته کړی، بلکې لا يې ورته د داوړ کارونو موکه ورکړې ده. په هر حال دادی د تېر په څېر! يو ځل بيا کابل د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې د کنفرانس کوربه دی.

د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې د وزارت ويانده عبدالقيوم ثامر وويل چې په دې کنفرانس کې به د دې مبارزې په لاسته راوړنو او نيوکو تدبيرونو خبرې ترسره او تجربې به سره شريکې شي: «دې ته اړتيا **۳مخ**

ايا ملاملنګ به په ربستيا د افغانستان راتلونکی ولسمشر شي ؟!

پاکستاني رسنۍ وايي چې يوه مهم افغان مشر ملامحمد صالح چې په ملاملنګ مشهور دی روانه اوونۍ په پټه کوټې او اسلام اباد ته سفر کړی او له پاکستاني چارواکو سره يې خبرې کړې دي.

د نېشن انګريزي ژبې ورځپاڼې د راپور له مخې باور کېږي چې ملاملنګ په اسلام اباد کې له مهمو مقاماتو سره د افغانستان د راتلونکي حکومت د جوړښت په باب خبرې کړې دي. ملاملنګ د پخواني شوروي اتحاد پر ضد د جهاد يو مهم قومندان و. د شوروي ځواکونو له وتلو او د نجيب الله د رژيم له پرځېدو وروسته د مجاهدينو د واکمنۍ په موده کې ملا ملنګ د کندهار والي و، خو د طالبانو د واکمنۍ په موده کې په کوټه کې اوسېده. ملاملنګ په ۲۰۰۵ کې د ملي شورا غړيتوب ترلاسه کړ. د نېشن پاکستانی ورځپاڼې له تبصرې د اسې ښکاري چې پاکستان غواړي چې د حامد کرزي د دورې له پای ته رسېدو وروسته نوموړی د افغانستان ولسمشری ته کانديد کړي.

د دې ورځپاڼې په نظر د کرزي د واک د دورې له پای ته رسېدو وروسته زلمی خليلزاد او امرالله صالح ځانونه کانديدوي چې دواړه د پاکستان خلاف دريځونه لري، خو ملاملنګ د دوی په مقابل کې له پاکستان سره نژدې دی. ورځپاڼه په عين حال کې وايي، ملاملنګ، چې په کندهار، بادغيس، فراه، زابل او اوروزګان ولايتونو کې نفوذ لري له امريکا سره هم اړيکې پالي. د نېشن له ليکنې سره سم تر ډېرو پورې ځوک نه پوهېدل چې د ملاملنګ د کورنۍ غړي په کوټه او اسلام اباد کې اوسي. د نېشن له ليکنې سره سم زلمی خليلزاد د سپينې مانۍ له ملاتړه برخمن دی، خو په افغانستان کې نفوذ نه لري. خو ملاملنګ نه يوازې د پاکستان له آی ايس آی سره نښې اړيکې لري، بلکې په واشنګټن کې يې هم خبره اورېدونکي لري. نېشن ليکي: ولسمشر حامد کرزي په ځانګړي ډول د احمدولي کرزي له وژل کېدو وروسته، چې ادعا کېږي د سي آی اې قراردادیانو ووژاه، سياسي توله د پاکستان په ګټه بدله کړې ده:

نېشن د افغانستان له قوتونو د خپل هېواد اند ښې ته په اشارې ليکي: هم پاکستان او هم افغانستان په هر ډول راتلونکي حکومت کې ګټې لري، خو امريکا او هندوستان تر وسه وسه هڅه کوي چې په سيمه کې موجود حالت، چې له يوې پېړۍ راهيسې برقرار دی، بدل کړي. ورځپاڼه په دوام کې کاږي: د کابل دوروستي سفر په ترڅ کې د پاکستان صدراعظم يوسف رضا ګيلاني د کرزي حکومت ته په زغرده وويل چې افغانستان بايد د خپلو امنيتي ځواکونو (پوليس او ملي اردو) د شمېر او د هغوی د روزنې په اړه له پاکستان سره مشوره وکړي. د تاند د راپور له مخې، پاکستان تر دې پخواد ناټو او امريکا چارواکو ته هم ويلي وو، چې دوی د پياوړي او لوی افغان ځواک مخالف دي.

نېشن زياتوي: د افغانستان په راتلونکي حکومت کې بايد د پاکستان ستراتيژي تعقيب شي، پاکستانيان بايد د افغانستان د حکومت په اداره کې استخدام شي، او افغانستان بايد د ناټو او د امريکا د متحدو ايالتونو په شمول له خپلو ټولو لوېديځو متحدانو سره د هرراز موافقې د لاسليکولو په اړه پاکستان ته معلومات ورکړي. د دې مسايلو د يادولو په پای کې نېشن اسلام اباد ته د ملاملنګ سفر له ماناړک بولي.

نشه يي توکي په افغانستان ...

شته، چې د سيمې او ګاونډي هېوادونه په ګډه له موږ سره کار وکړي، ترڅو يو ګټور ميکانيزم جوړ شي چې د قاچاق کوونکو کورنۍ او بهرنۍ شبکې ونيسو.»

په دې کنفرانس کې له روسيې څخه ويکتور پترويچ ايوانوف، له پاکستان څخه سيد شکيل حسين، له تاجکستان څخه رستم شاه نظروف او له افغانستان څخه د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې وزير ضرار احمد مقبل ګډون درلود.

د افغانستان د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت چارواکي وايي، سره له دې چې په دې مبارزه کې د پام وړ لاسته راوړنې لري، خو بيا هم هغه څه د دې مبارزې د لارې خنډ کېږي هغه ناامنې ده، دوی وايي: «د نشه يي توکو د کر ستونزه په ناامنو سيمو کې ده، په دې ولايتونو کې څه باندې اويا فيصده کوکنار کرل کېږي، لکه د هلمند، فراه، ارزګان او کندهار په ولايتونو کې.»

دا وزارت دا هم وايي چې په دې لاره کې د دوی مبارزې څه باندې اويا فيصده مثبته نتيجه ورکړې!

خو کارپوهان بيا وايي، افغانستان اوس هم د نړۍ په هغو هېوادونو کې شمېرل کېږي چې د کوکنارو کرا او توليد په کې تر ټولو زيات اوسط لري، خو څه کم اوه زره ميتريک ټنه تر رسېږي. کارپوهان په دې لاره کې د سلګونو ميليونو ډالرو د لګښت په پرتله، شته لاسته راوړنې کمې ګڼي.

په هر صورت موږ ويلی شو، چې اوس نه يوازې کوکنار او له هغه څخه پيدا کېدونکي ډول ډول نشه يي توکي، بلکې د لوېديځ سوغات يا شراب! هم اوس په افغانستان کې دومره زيات شوي، چې حد پرې تمام دی، خو د مخنيوي په برخه کې يې تر اوسه هېڅ هم نه دي شوي او لامل يې هم دادی، چې پخپله د دولت په چوکاټ او له دولته بهر ځينې کورنۍ او بهرنۍ مافيايي کړۍ شته، چې د دا ډول توکو د توليد، قاچاق او کارونې لپاره کار کوي او نه يوازې افغان ولس او ټولنه له لوی مصيبت او ګواښ سره مخ کوي، بلکې نړيوال او نړيواله ټولنه هم له دې ستر ناروين او مصيبت سره مخ کوي او له دې لارې د پرې پيسې او ګټې لاس ته راوړي. په دې توګه ويلی شو، چې د يادو توکو پر وړاندې سالمه، حقيقي او پر ځای مبارزه نه ده شوې او تر هغو چې پر وړاندې يې سمه، پر ځای او رښتيني مبارزه ونه شي، عاملين يې محاکمې ته رانه کابل شي، نو په هېڅ صورت کې به دا شومه او ناوړه پديده او تور داغ د افغانستان له سپېځلي لمنې پاک نه شي!!

په کابل کې لسګونه ناقانونه او ...

دوی له موږ سره ښه همکار دي."

انجنير نواندیش څرګنده کړه، چې د غير قانوني او خپلسرو ودانيو د جوړولو د مخنيوي لپاره به ځانګړي پوليس رامنځ ته شي، ترڅو د هغو کسانو مخه ډب کړي، چې زورور دي او د غيرقانوني ښار ګوټو جوړول يې کار اوبار دی.

که څه هم کابل ښاروال په دې ولايت کې د غيرقانوني ښار ګوټو د شمېر او دا چې دا ښار ګوټي کومو کسانو پورې مربوط دي څه ونه ويل، خو په ډاګه يې کړه چې د سلو په شاو خوا کې غيرقانوني او غيرمعياري ښار ګوټي په کابل کې جوړ شوي دي.

په عين حال کې د مشرانو جرګې د مواصلاتو او مخابراتو د کمېسيون رييس انجنير احمد جاويد رووف هم وايي، چې د دوی د معلوماتو له مخې په کابل کې تر ډېره جوړ شوي ښار ګوټي غير قانوني دي: "زه داسې ګومان کوم چې د کابل ښار په سلو کې اتيا برخه غصب شوې ، يا نې ټول ښار غيرقانوني دی.

يوازې اته ښار ګوټي چې ما تاسو ته ياد کړل سم دي نور کابو سل ښار ګوټي غير قانوني جوړ شوي او لا هم جوړ ېږي."

ويل کېږي، هغه ښار ګوټي چې په وروستيو لسو کلونو کې د افغانستان په ببلابېلو برخو کې جوړ شوي، تر ډېره زوروا کو او ځينو دولتي چارواکو پورې اړه لري او تيټ کيفيت لرونکي مواد په کې کارول شوي، چې د زلزلې او نورو طبيعي پېښو پر وړاندې يې مقاومت ډېر کم او ناڅيز دی.

په ډېرو دغو ښار ګوټو کې پارکونه، د ماشومانو د لوبو ځايونه، ښوونځي، روغتيايي کلنيکونه او نور ټولنيز خدمتونه هم په پام کې نه دي نيول شوي.

خو د ازادي راډيو د راپور له مخې، د کابل ښاروال له دې څرګندونو سره سره داسې انتقادونه هم موجود دي چې د دې غير قانوني او غير معياري ښار ګوټو او نورو ودانيو د جوړولو په بدل کې د کابل ښاروالۍ ډېرو مسوولانو ته د بډې په توګه ډېرې پېسې، کورونه او نور جايدادونه ورکړل شوي دي.

معترضو نوماندانو د لارو او ...

کانديدانو دا کار به عامه نظم له منځه يوسي، چې دا به د خلکو کرکه هم راپاروي.

خو معترض کانديدان بيا خپل احتجاج پر ځای بولي او وايي، تر هغو، چې حق يې اعاده شوی نه وي دوی به خپلې مبارزې ته دوام ورکړي.

د دوی په وينا افغان حکومت بايد د ځانګړې محکمې پرېکړه، چې د څو مياشتنيو ځيړنو په پايله کې اعلان شوې عملي کړي او په هغې کې بدلون نه مني.

د دغو کانديدانو له ډلې نه داوود سلطانزوی وايي، چې خلک به ډېر ژر په دې برخه کې د دوی د عملي هڅو شاهدان وي: (زموږ حرکات د شروع کېدو په حال کې دي، تاسې به په ډېر کم وخت کې واورئ چې ولايتونو کې موږ خپل کار بشپړ کړی، ټول راټولېږي او موږ بشپړه امادګي لرو او په هر ځای کې به مدني حرکتونه پيل کړو او که حکومت د قضا حکم تطبيق نه کړي، بيا به موږ کوښښ وکړو چې نورې لارې غوره کړو)

د ازادي راډيو د راپور له مخې، دغه کانديدان که څه هم د انتخاباتو د کمېسيون وروستۍ پرېکړه غير قانوني بولي، خو ولسي جرګې ته يې د نهو نويو وکيلانو د ورتګ هرکلی کړی.

د دوی په وينا دا کار د دوی د ستونزو يوه برخه هواره کړې، خو دوی به تر هغه خپلو هڅو ته دوام ورکړي، چې د ځانګړې محکمې پرېکړه نه وي عملي شوي.

د ځانګړې محکمې له پرېکړې سره سم، چې وروسته بيا د استناف د محکمې له خوا هم تاييد شوه دوه شپېته معترضه کانديدان بريالي اعلان شوي وو.

دې محکمې د انتخاباتو د کمېسيون چارواکي هم تورن کړي، چې په نتايجو کې يې لاسوهنه کړې او بايد تر عدلي تعقيب لاندې ونيول شي.

همدې پرېکړې ته په پام سره معترضه کانديدان وايي، چې د انتخاباتو د کمېسيون پرېکړه ورته د منلو وړ نه ده.

دور تازۀ مذاکرات پیمان ...

در این راستا مشاور امنیت ملی کرزی آقای سپنتا، موظف شده است، در سفر به امریکا دربارۀ همکاری های استراتیژیک مشترک باتوجه به منافع ملی افغان ها گفتگو کند.

باید گفت، بحث دربارۀ پیمان استراتیژیک امریکا با افغان ها در حالی است که مقام های امریکایی در آخرین اظهارنظرهای خود گفته اند که همکاری های استراتیژیک آنان با کابل براساس یک 'اعلامیه' انجام می گیرد، نه 'پیمان' زیرا اعلامیه زیاد الزام آور نیست.

این اظهارات سفیر جدید امریکا در کابل واکنش های مختلفی همراه داشته؛ زیرا پیشتر اعلام شده بود که کاخ سفید قصد دارد، در قالب پیمان استراتیژیکی با افغانستان چندین پایگاه دایمی در این کشور ایجاد کند.

نخستین بار اواخر سال گذشته بود که همزمان با تاکید مقام های افغان مبنی بر خروج نیروهای خارجی از کشورشان، تصمیم واقعی امریکا از حضور در افغانستان و زمینه سازی برای حضور دایمی اش مبنی بر ایجاد پایگاه های دایمی افشا شد.

رییس جمهور کرزی تایید کرد که امریکا به دنبال ایجاد چند پایگاه در این کشور در قالب پیمانی استراتیژیک است.

افشای این تصمیم امریکا مخالفت های جدی در داخل و خارج از افغانستان به همراه داشت؛ به طوری که مقام های کاخ سفید به دنبال این مخالفت ها در نطق های رسانه یی خود چندین بار گفتند که قصد ندارند، پایگاه های دایمی در افغانستان ایجاد کنند.

اما رئیس جمهوری افغانستان به دنبال این ادعاهای مقام های امریکایی باز در سخنرانی های خود تصریح کرد که ' امریکا به دنبال ایجاد پایگاه های دایمی در این کشور است'.

چند ماه پیش حتا کرزی در یک نشست با اعضای شوراهای ولایتی کشور، از آنان دربارۀ پیمان استراتیژیک که قرار است در قالب آن پایگاه های دایمی امریکا نیز ایجاد شود، نظرخواهی کرد که حاضران به صورت قاطع مخالفت خود را بیان داشتند.

گفته می شود، با این حال کاخ سفید اصرار دارد، پیش از برگزاری اجلاس 'بن دوم' که قرار است، تا اواخر سال جاری میلادی برگزار شود، زمینۀ حضور دایمی اش در افغانستان را تثبیت کند؛ به همین منظور بر مذاکرات دو کشور دربارۀ روابط استراتیژیک اصرار دارد.

در این میان دولت افغانستان بارها تاکید کرده درهر صورت منافع و شرایط افغان ها در هر پیمانی باید مدنظر باشد.

کرزی گفته بود: قانونمندشدن حضور امریکایی ها، جلوگیری از خودسری ها و کشتار افغان های غیرنظامی ازجمله شروط اصلی افغان ها در هر پیمانی محسوب می شود که واشنگتن تاکنون این شرایط را نپذیرفته است و نه به آن اعتنایی ورزیده است.

د روان کال تر پایه د ټولو شخصي امنيتي کمپنيو ټرل، د حکومت لپاره يوه ستره ننګونه!

له دې سره چې افغان حکومت په هېواد کې د فعالو ټولو شخصي امنيتي کمپنيو پر لغوه کولو ټينګار کوي، خو د دغو کمپنيو کار کوونکي وايي، حکومت نه شي کولای خپل دا پلان په پوره توګه عملي کړي.

افغان حکومت د شخصي امنيتي کمپينو د لغوه کولو پلان وروسته تر هغه اعلان کړ، چې پر ځينو دغو کورنيو او بهرنيو کمپنيو په نا امنيو، جرمونو او غلاوو کې د لاس لرلو تور ولګېده.

که څه هم د افغانستان د ملي امنيت په شورا کې يو ځلې بيا يو مخ د ټولو خصوصي امنيتي کمپنيو پر لغوه کېدو ټينګار شوی، خو د يو شمېر کمپنيو کار کوونکي دا کار ناشونی بولي.

د ای اس اف او بي اس اس اف په نامه دوو بهرنيو کمپنيو دوو تنو کار کوونکو عبدالغفور او عبدالحکيم وويل، په اوسنيو شرايطو کې د دې کمپنيو ته اړتيا ده: "عبدالغفار- په افغانستان کې بې وزلي او بې کاري خو را ډېره ده، کرزی صاحب په وار وار دا اعلان کوي، چې کمپنۍ د لغوه شي، نو څنګه به لغوه شي، دوې مياشتې مخکې يې جواز ورکړی دی دا جواز د فساد له مخې ورکړل شوی دی.

عبدالحکيم –دا خلک چې بې کاره کېږي، په دې هېواد کې د يوې ګولې ډوډۍ پيدا کول ستونزمن کار دی، څوک به ځان وژنه وکړي، څوک به طالبانو ته ورشي، که چېرې په پوليسو کې دنده اجرا کوي، خو هغوی يې سيمو ته لېږي، چې دوی خپلې کورنۍ نه شي پرېښوولای."

په عين حال کې د افغانستان د کورنيو چارو وزارت وايي، حکومت نه شي کولای چې د کورنيو چارو وزارت د عامه ساتنې پر نامه پر يوه داسې څانګه په جدي توګه کار کوي، چې د شخصي امنيتي کمپينو رامنځ ته کېدونکې تشه به ډکه کړي.

د دې وزارت چارواکي وايي، چې د عامه ساتنې څانګه د کورنيو چارو وزارت په چوکاټ کې ځانګړي کسان لري، چې روزنه يې روانه ده او د ټولو سفارتونو، موسساتو او پروژو ساتنه به په راتلونکې کې دوی ته وسپارل شي.

خو د امنيتي او پوځي چارو پوهان وايي، چې دا ځواکونه به په لنډ وخت کې د اړتيا پيدا نه کړي.

اسحاق اتمر وويل، د روان لمريز کال تر پايه د ټولو کمپنيو لغوه کېدل ستونزمن کار دی او په افغان حکومت کې داسې کسان شته، چې د شخصي امنيتي کمپنيو ملاتړ کوي.

"زه په دې اند يم، چې د دې کال تر پايه دا اقدام شونی نه دی، يو لوی چلنج دوړ تيا نه موجوديت دی او بل لوی چلنج په نظام کې له کمپنيو څخه د لويو کسانو ملاتړ دی او قوي هوډ نه شته، نو عملي کېدل به ستونزمن وي."

خو د افغانستان د کورنيو چارو وزارت وايي، د روان کال د کب تر مياشتې پورې به ټولې کمپنۍ له منځه يوسي.

د دې وزارت ويانده صديق صديقي ازادی راډيو ته وويل، هيڅ يوه کمپنۍ به تر دې کال وروسته په افغانستان کې فعاليت ونه کړي او ټولې به وتړل شي: "د کورنيو چارو وزارت د دې اقدام په اړه د افغان حکومت د سلې والو مخالفينو لاس ته ورغلي، چې د راپور نو پر اساس يوه برخه يې شخصي امنيتي کمپنيو د ځان ساتنې په هدف مخالفينو ته ورکړي دي.

آموزش و پرورش زمینه ساز پیشرفت و ترقی است!

انیس فروتن



کشور هایی که درحال حاضر سیر صعودی در جهت پیشرفت و ترقی را پیموده اند، آنان با کسب علم و دانش سعی و تلاش نموده و شهروندان آنها در تمام عرصه ها به خاطر فراگیری علم و دانش شب و روز زحمت کشیده اند و حال ثمرهٔ آنرا تمام جهان به چشم سر می بیند؛ مثلاً کشور جاپان استقلال خود را با افغانستان همزمان کسب کرده است، اما می توان تفاوت را از زمین تا آسمان گفت.

در این روزها سخن از اعزام محصلان افغان برای تحصیل به کشورهای هند و ترکیه بر سر زبان هاست که هر افغان با شنیدن این سخن امیدوارتر به آیندهٔ افغانستان می گردد؛ چون افغانستان امروز نیاز به پیشرفت و ترقی دارد. ما هم تا به امروز به اکثریت اجناس بی کیفیت همسایگان نیاز داشتیم، اما تمام شهروندان افغانستان کوشش و تلاش بی شایبهٔ خویش را به خرچ دهند، تا از این فرصت های به دست آمده، استفادهٔ اعظمی نموده و بعد از سپری شدن ده سال از رویکار شدن تحولات جدید در کشور، نیازهای اولیهٔ ما باید از کشورهای خارجی کاهش یابد و خود زمینه ساز، تعالی کشور گردیم.

در طی سال های اخیر، یک تعداد از کشورهای دوست بورسیه های تحصیلی را به دانش آموزان افغان در نظر می گیرند که می توان از کشورهای ترکیه، هندوستان و...نام برد که در این روزها اعزام یک تعداد از محصلان از ولایات مختلف کشور به خاطر فراگیری تحصیلات عالی به کشورهای ترکیه و هندوستان بزرگترین گامی برای ترقی، پیشرفت و آبادی کشور بوده و می توان این تصمیم را به فال نیک گرفت، تا امید به آیندهٔ کشور و نوید بخش یک افغانستان آباد، مرفه و با ثبات را در اذهان هموطنان عزیز ما بیشتر سازد؛ به خاطریکه جوانان و محصلان امروز آینده سازان فردای کشور هستند.

تمام شهروندان افغانستان با این روند خرسند بوده؛ چرا که در چنین شرایطی که دشمنان دین و وطن عزیز ما که مخالف پیشرفت و ترقی افغانستان بوده و همواره کوشش می نمایند مکاتب، مدارس و پوهنتون ها مسدود و یا آنرا به آتش کشیده، و هیچگاه آنان صلح و ثبات را در کشور نمی خواهند، طوری که چندی قبل گروه طالبان حتا تهدید به بستن مدارس دینی را در ولسوالی چک میدان وردک گرفته بودند.

با این همه مشکلات، جوانان و محصلان کشور با بسیار شوق و علاقهٔ فراوان به تحصیل خویش ادامه می دهند و ضمناً باید تمام جوانان و دانش آموزان تا حد اعظمی تلاش و کوشش به خرچ دهند و از هر لحظهٔ خویش استفادهٔ مفید نمایند.

به هر صورت، توقع ما از محصلانی که غرض فراگیری دروس و تحصیلات عالی به کشورهای خارجی اعزام می گردند این است، تا درس های خویش را به وجه احسن فرا گیرند، تا بتوانند در آینده مصدر خدمات شایان در افغانستان واقع شوند؛ ضمنا ما از مخالفان مسلح دولت می خواهیم، تا موانع را در مقابل آموزش و پرورش متعلمان در سراسر نقاط افغانستان ایجاد ننموده؛ چرا که تمام بدبختی های افغانستان از نبود تعلیم و تعلم نشأت می گیرد و کشورهای خارجی همواره در صدد آن اند، تا شهروندان این مرزوبوم را در تاریکی نگه داشته، در حالی که عدم داشتن دانش و سواد کافی طی سالیان گذشته، باعث ناآرامی ها و جنگ های خانمانسوز در افغانستان گردیده است و همین مسأله منشای اصلی بدبختی های گذشته و جاری کشور ما بوده است و بس.

په سالنګ کې د ورکو شویو جرمنیانو مړي وموندل شول

په پروان ولایت کې دوې اونۍ مخکې د ورکو شویو دوو جرمنیانو مړي موندل شوي دي.

د پروان امنیه قوماندان مل پاسوال شهراحمد ملداني د وړي پر ۱۴ مه وویل، چې د دغو جرمنیانو مړي د سالنګ په سوبلي برخه کې موندل شوي دي.

سرچینې زیاته کړې، چې سیمې ته یې د هغوی د جسدونو د لېږدولو په موخه یو پلاوی لېږلی دی.

د سالنګونو د ساتنې مسوول جنرال رجب وویل، چې دغه مړي د سالنګ ولسوالۍ د ګراري قیچي سیمې د دوو غرونو ترمنځ په یوه دره کې د سیمې د اوسېدونکو له خوا موندل شوي دي.

یاده سرچینه وایي، چې دواړه مړي په بوجیو کې اچول شوي، خو دمګړی یې د وژل کېدو لامل نه دی څرګند شوی.

یاد دوه تنه جرمنیان غړه ختونکي وو او د سالنګ غرونو ته د ختلو په موخه تللي وو، چې بیا نادرکه شول.

په همدې حال کې د سالنګ ولسوالۍ څلور کوچیان د دې دوو ماڼي وګړو د وژلو په تور ونیول شول. د پروان والي ویاند روشنا خالد پژواک ته وویل، چې د دغو دوو المانیانو له ورکېدو وروسته امنیتي ځواکونو څلور کوچیان د سوبلي سالنګ په دشت خوني سیمه کې د دې قضیې په تور نیولي وو.

د هغه په وینا، څېړنې ښیي چې دغه کوچیان د دغو کسانو په وژلو کې لاس لري او په ډزو سره یې دغه دوه المانیان وژلي دي.

د سالنګ ولسوال عنایت الله ساپي هم د سوبلي سالنګ په غرونو کې د دغو المانیانو د مړو د پیدا کېدو پخلی وکړ او ویې وویل، چې کشفي ټیمونه سیمې ته تللي، څو مړي ولسوالۍ ته ولېږدوي.



کنوانسیون منع شکنجه و سایر رفتارها و مجازات ظالمانه، غیر انسانی یا تحقیر آمیز

ماده سی و سوم:۲– سرمنشی سازمان ملل متحد رونوشت گواهی شده این کنوانسیون را برای تمام کشورها ارسال خواهد داشت.

این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۳۱۶۰۴۵۰ – ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

ارادهٔ ورځپاڼه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه پې مسوولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک:
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: خادم احمد
موبایل: –۰۷۰۰ ۵۹۶۲۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون: استاد مرتضی فرحتیار
موبایل: –۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل: –۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین: انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس: دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com